**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

# د مسجد الاقصی د ازادۍ په موخه د پاکستان پوځ د حرکت لپاره د حزب التحریر- ولایه پاکستان کمپاین

(ژباړه)

حزب التحریر- ولایه پاکستان د یهودي دولت د له منځه وړلو لپاره د پاکستان د پوځ، چې په نړۍ کې شپږم ستر او اټومي وسلې لرونکی پوځ دی، د چټک حرکت لپاره کمپاین ته دوام ورکوي. شباب د بې رحمه او بې زړه رژیم پر گواښونو سربېره، د ټول هیواد په عامه ځایونو کې د پاکستان مسلمانانو ته ویناوې کوي. دوی په ټوله کې پر مسلمانان او په ځانگړې توگه علماوو غږ کوي چې د ظالمو او جنایتکارو حکامو له وېرې پرته د دغه کمپاین ملاتړ وکړي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

«**فَاللهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَوْهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ**» [توبه: ۱۳]

**ژباړه:** *«الله تعالی د دې ښه حقدار دی چې ترې ووېرېږئ (هغه وېره چې له تعظیم او احترام سره مل وي) که تاسو مومنان یاست.»*

په دې کې شک نشته چې امت په دنیا کې پر خپل هدف پوه شوی او که خدای کول بیا به نه ویده کېږي. پرېږدئ چې همدا اوس د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره پر مخ لاړ شي او د پخوا په څېر ټول بشریت د ښېگڼې پر لور رهبري کړي.

حزب التحریر- ولایه پاکستان، د فلسطین د مسلې د حل لپاره د غربي قدرتونو تر واک لاندې تش په نوم "نړیوالې ټولنې" څخه د حکامو غوښتنه غندي. دا غربي استعماري دولتونه دي، چې یهودي اشغال ته یې لار هواره کړه. غربي استعمار اوس صهیونیستي ترهگرو ته وسلې ورکوي، تمویلوي یې او د غزې ماشومان تر خپلو کورونو لاندې ژوندي ښخوي. حزب التحریر له غربي قدرتونو سره د ټولو ایتلافونو د پای ته رسولو او د دوی د نا عادلانه نړیوال نظم د ردولو غوښتنه کوي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ]** [ممتحنه: ۹]

**ژباړه:** *«له شک پرته همدا خبره ده چې الله تعالی تاسو د هغو خلکو له ملګرتیا څخه منع کوي، چې له تاسو سره د دین په معامله کې جنګېدلي دي، تاسو يې له خپلو کورونو څخه ایستلي یاست او ستاسو په ایستلو کې يې يو د بل ملاتړ کړی دی. له هغو سره چې کوم کسان ملګرتیا وکړي، هغوی ظالمان دي.»*

حزب التحرير ـ ولايه پاکستان د مسلمانانو ټول هغه حکام غندي، چې د مسلمانانو د لښکرو پر وړاندې خنډ ګرځي او ثابته کړې يې ده چې دوی د يهودي دولت ساتنه کوي. خو کله چې غربي باداران پر دغو حکامو امر وکړي، بيا د نړۍ هر ګوټ ته خپلې لښکرې استوي. که خدای کول دا به د دوی وروستی خيانت وي؛ امت به دوی نيسي او اسلام به پلی کوي. رسول الله صلی الله عليه وسلم له ظالمو حکامو وروسته د نبوت پر منهج راشده خلافت د بيا راګرځېدو زيری ورکوي:

**«ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلاَفَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

ژباړه: *«...وروسته به جبريه (ظالمانه) حاکميت وي او تر هغه به دوام کوي، چې الله تعالی يې غواړي او کله چې وغواړي درنه اخلي يې او بيا به د نبوت پر منهج خلافت وي.»* [احمد]

حزب التحرير ـ ولايه پاکستان د پوځ پر افسرانو غږ کوي چې د مسجد الاقصی د ازادۍ لپاره بسيج شي او حرکت وکړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ]** [انفال: ٧٢]

**ژباړه:** «که هغوی د دين په باب له تاسو مرسته وغواړي، نو د هغوی مرسته پر تاسو فرض ده.»

دا هر افسر ته ورياد وي چې دوی يوازې نه دي. د الله سبحانه وتعالی د ملاتړ سربېره د امت ملاتړ هم ورسره دی. پرېږدئ چې دوی د جګړې ډګر ته د لومړي ننوتونکي وياړ ترلاسه کړي او هغه خنډ چې د دوی پر وړاندې رامنځ ته کېږي، لرې کړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ وَإِنْ يَخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِي يَنْصُرُكُمْ مِنْ بَعْدِهِ وَعَلَى اللهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ]** [آل عمران: ١٦٠]

**ژباړه:** *«که الله تعالی مو مرستندوی وي، نو هېڅ قوت درباندې برلاسی کېدلای نه شي او که هغه تعالی تاسو پرېږدي، نو بیا له الله تعالی وروسته څوک ستاسو مرستندوی کېدلای شي؟ نو څوک چې رښتیني مومنان دي، هغوی د یوازې پر الله تعالی توکل وکړي.»*

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربیع الثاني ۱۴مه**

**۲۰۲۳م کال، د اکتوبر ۲۹مه**

**د صدور ګڼه: ۱۷/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**